


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# الحاج عبدالمجيد « نقيبي »

د نشر نيته : 22 نوامبر 2014 م

# أهـــونه

د غمونو سلسلې دي نه ختميږي
هره ورځ په نوي بڼه ځرګنديږي
چې انسان د انسانيته ځينې ووځي
د هغه او ځناور به څه فرق کيږي
د حيا خبرې ولې شوې کم رنګې؟
ولې سترګې نن له سترګو نه شرميږي؟
وايي ! ويره له هغو ځيني پکار ده
هغه څوک چې دالله ج نه نه ويريږي!
څوک چې مست شي دشيطان په اوړو کيني
په ا سا نه ځينې چيرته ښکته کيږي
څو چې رحم د الله ج وربانده نه شي
زما او ستا په دې خبرو چيرته کيږي !
څومره وخته دی دا اور د لته بل شوی
څومره نور به سرې لمبې ځينې جيګيږي؟
دلته اوښکې په هر پل له سترګو څاڅي
چې د سرو وينو ويالې هر ورځ بهيږي
بس ترڅو به په وطن وي دا غميزې؟
او تر څو به د نقيب ستونی وچيږي ؟
***

الحاج عبدالمجيد « نقيبي »
برول – کلن – جرمني
15/ 11/ 2014

بازګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org